# د افغانستان اسلامي امارت

## د ارشاد، حج او اوقافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**
**لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز او ولایات**
**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي**

---

**۱۶/ ربیع الثاني /۱۴۴۴ هـ ق مطابق ۲۰/عقرب/۱۴۰۱هـ ش**

## د مور او پلار د حقوقو رعایت کول او دنافرمانۍ دنیوي او اُخروي زیانونه

الحمد لله الذى حذرنا من دارالغروروامرنا باالاستعداد ليوم البعث والنشور، احمده وهو الغفور الشكور امربيرالوالدين وحذر ونهى عن العقوق،وجعل جزاء البرجنة ورضواناً، والصلاة والسلام علي سيدنا محمد أكمل الخلق بياناً،وعلي آله وصحبه ومن كانوا لهم إخواناً ، أما بعد :قال الله تعالى :{وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ إِحْسَانًا حَمَلَتْهُ أُمُّهُ كُرْهًا وَوَضَعَتْهُ كُرْهًا وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهْرًا حَتَّى إِذَا بَلَغَ أَشُدَّهُ وَبَلَغَ أَرْبَعِينَ سَنَةً}الاحقاف:(۱۵).

د مور او پلار د حقوقو رعایت پر مونږ هر یو باندې فرض دی او د هغوی له ضرر او رنځ څخه ځان ساتل پر مونږ لازم دي . د مور او پلار د حقوقو څخه هیڅوک انکار نشي کولای؛ ځکه مور او پلار دي چې اولادونه یې زیږولي دي او بیایې د اولاد لپاره شپه او ورځ نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کړي دي او د اولاد د جسمي، روحي او اخلاقي تربیه کې یې شپه او ورځ زحمتونه ګاللي دي.
د انسان ترقي، کامیابي او خوښي هرڅه د مور او پلار داحسانونو مرهون دي.

د مور او پلارحقوق پرځای کول په حقیقت کې د مور او پلار د خدمتونو شکر اداء کول دي؛ځکه خو الله تعالی فرمایي :{وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْناً عَلَى وَهْنٍ وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ إِلَيَّ الْمَصِيرُ }لقمان:(۱۴)

ترجمه:- او وصیت امر کړی دی مونږ انسان ته د مور او پلار خپل سره ( په نیکی کولو ځکه چې په نس کې) ګرځاوه ده لره مور دده په سستۍ سره له پاسه د بلی سستۍ او بیلول دده دي (له تي نه) په (پوره کیدلو) د دوو کلونو کې (او ورته ویلي دي مونږ داسې) چې شکر کوه ماته او مور او پلار خپل ته خاص بیا ماته دي راتلل ( ستاسو ای انسانانو).
په دې آیت کریمه کې الله تعالی خپل شکر د مور او پلار له شکر سره تړلی دی.
همدا وجه ده چې پیغمبرعلیه السلام فرمایي جنت د مور د پښو لاندې دی.
د مور او پلار له حقوقو څخه د مور او پلار سره نیکي کول دي. الله د مور او پلار سره نیکي د جنت له دروازو څخه یوه دروازه ګڼلې ده. هر څوک چې د مور او پلار سره نیکی وکړي الله تعالی ډیر ژر ثواب او بدله ورکوي او که د دوی یې بې احترامي وکړي او یا څه تکلیف ورته ورسوي د هغه سزا هم ډیره ژر ویني .

الله جل جلاله د مور آو پلار د حقوقو په برخه کې فرمايي:{وَقَضَى رَبُّكَ أَلاَّ تَعْبُدُواْ إِلاَّ إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلاَهُمَا فَلاَ تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ وَلاَ تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلاً كَرِيمًا ، وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُل رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيراً} الإسراء : ٢٣ – ٢٤

ترجمه:- اوحکم فرمايلی دی رب ستا چې عبادت مه کوئ تاسې، مگر يواځې هم ددغه( الله) او( احسان کوئ ) د والدينو سره په احسان کولو سره ، او که چيرې هرومرو ورسيد تاڅخه( حدود) زوړوالي ته يو له دې دواړو يا دواړه ددوی، نو مه وايه ته دې دواړو ته ( کلمه د) اف ( هم ) او مه رټه دوی دواړه او وايه دواړو ته خبره پسته (ادب ناکه) او ښکته کړه دپاره ددې دواړو وزر( اوږه) د تواضع له مهربانی او وه وايه ای ربه زما مهرباني او ( ښښنه) وکړه دې دواړو ته لکه چې تربيه (پالنه) يې کړی ده زما په هغه حال کې چې زه صغير وم.

امام قرطبي رحمه الله دې آيت په تفسير کې وايې : الله تعالی په خپل عبادت باندې امر کړی دی او د مور او پلار سره نيکي کول يې د خپل حق سره پيوسته ذکر کړی دی لکه څرنگه چې د مور او پلار شکر اداکول يې د خپل شکر اداء کولو سره يوځای ذکر کړی دی .[ تفسير القرطبي]

په يو بل مبارک آيت کې الله تعالی فرمايلي دي:{وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئاً وَبِالْوالِدَيْنِ إِحْساناً وَبِذِي الْقُرْبى وَالْيَتامى وَالْمَساكِينِ وَالْجارِ ذِي الْقُرْبى وَالْجارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ وَابْنِ السَّبِيلِ} النساء: (٣٦)

ترجمه:- او عبادت کوئ تاسې د الله او مه شريکوئ تاسې له ده سره هيڅ شی او (نيکي کوئ) د مور او پلار سره په نيکی کولو او ( نيکي کوئ) له خاوندانو د خپلوی سره او (نيکي کوئ) يتيمانو سره او (نيکي کوئ) مسکينانو سره او (نيکي کوئ) همسايه گانو سره چې غريب وي ( په نسب يا همسايگی کې) او ( نيکي کوئ له همسايه سره چې بعيد وی( په نسب يا په همسايگی کې) او (نيکي کوئ) له هغه ملگري سره چې په څنگ کې وي او (نيکي کوئ) له مسافر سره.

همدا راز الله تعالی فرمايلي دي:{ قُلْ تَعالَوْا أَتْلُ ما حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ أَلَّا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئاً وَبِالْوالِدَيْنِ إِحْساناً } الأنعام: (١٥١)

ترجمه:- ووايه ( ای محمده دوی ته ) چې راشئ چې زه ولولم هغه چې حرام کړي دي رب ستاسې پر تاسې باندې چې شريکان مه نيسئ تاسې له دغه (الله ) سره هيڅ شی او (نيکي کوئ تاسې ) له مور او پلار سره په نيکي کولو سره.

همدا رنگه د مور او پلار سره نيکه رويه کول بهترين عمل دی . رسول الله صلی الله عليه وسلم د مور او پلار د حقوقو په اړه فرمايلي دی:(عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : جَاءَ رَجُلٌ إلى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ : يارَسُولَ اللهِ ! مَن أحَقُّ النَّاسِ بِحُسنِ صَحَابَتِي ؟ قَالَ : أمُّك. قَالَ :ثُمَّ مَن ؟ قَالَ ثُمَّ أمُّك. قَالَ : ثُمَّ مَن ؟ قَالَ ثُمَّ أمُّك. قَالَ : ثُمَّ مَن ؟ قَالَ ثُمَّ أبُوكَ)متفق عليه.

ترجمه:- له ابی هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي : يو تن نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته راغی او ويې ويل يا رسول الله ! څوک ډير حقدار او وړ دی چې په ښه توگه ورسره ناسته پاسته وکړم ؟ ويې فرمايل : موردې . بيا يې وويل: له هغه وروسته څوک ؟ ويې فرمايل: موردې. بيايې وويل چې له هغې وروسته څوک ؟ ويې فرمايل: موردې، هغه سرې وويل بيا څوک ؟ ويې فرمايل: له هغه وروسته ستا پلار.

په يو بل حديث شريف کې رازي:( عن عَبْد اللهِ بْن عَمْرو رضي الله عنه يَقُولُ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَاسْتَأْذَنَهُ فِي الْجِهَادِ فَقَالَ أَحَيٌّ وَالِدَاكَ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَفِيهِمَا فَجَاهِدْ). صحيح البخاري

ترجمه:- دعبدالله ابن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې يو سړی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی او ورڅخه يې د جهاد لپاره اجازه وغوښتله. پيغمبرعليه السلام ورته وفرمايل:آيا ژوندي دي مور او پلار ستا؟ هغه سړي وويل : بلی ژوندي دي.پيغمبرعليه السلام ورته وفرمايل :بس په هغوی دواړو کې جهاد وکړه يعنی دهغوی په خدمت کې کوښښ وکړه.

د ابوداوود په روايت کې رازي: (جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ : جِئْتُ أُبَايِعُكَ عَلَى الْهِجْرَةِ وَتَرَكْتُ أَبَوَىَّ يَبْكِيَانِ. فَقَالَ : ارْجِعْ عَلَيْهِمَا فَأَضْحِكْهُمَا كَمَا أَبْكَيْتَهُمَا). سنن أبی داود

ترجمه:- يو سړی راغی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يې وويل: زه راغلی يم چې تاسره په هجرت باندې بيعت وکړم او مور او پلار مې په داسې حال پريښودل چې دواړو ژړل. پيغمبرعليه السلام ورته وفرمايل: هغوی ته ور وګرځه او هغوی داسې وخندوه لکه څرنګه چې دی ژړولي دي.

البته دا حکم هغه وخت ده چې مسلح جهاد فرض نه وی، هرکله چې جهاد فرض شی جهاد تر ټولو اعمالو غوره دی.

د مور او پلار خدمت کول د دعاګانو دقبليدو باعث ګرځي. الله تعالی د هغه شخص دعا قبوله کړه چې د مور او پلار خدمت کول يې په دعاء کې وسيله وګرځول. ( فَقَالَ أَحَدُهُمْ: اللَّهُمَّ إِنِّي كَانَ لِي أَبَوَانِ، شَيْخَانِ كَبِيرَانِ فَكُنْتُ أَخْرُجُ فَأَرْعَى، ثُمَّ أَجِيءُ فَأَحْلُبُ فَأَجِيءُ بِالْحِلاَبِ، فَآتِي بِهِ أَبَوَيَّ، فَيَشْرَبَانِ ثُمَّ أَسْقِي الصِّبْيَةَ، وَأَهْلِي وَامْرَأَتِي فَاحْتَبَسْتُ لَيْلَةً، فَجِئْتُ فَإِذَا هُمَا نَائِمَانِ قَالَ: فَكَرِهْتُ أَنْ أُوقِظَهُمَا، وَالصِّبْيَةُ يَتَضَاغَوْنَ عِنْدَ رِجْلَيَّ فَلَمْ يَزَلْ ذَلِكَ دَأْبِي وَدَأْبَهُمَا حَتَّى طَلَعَ الْفَجْرُ اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّي فَعَلْتُ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ، فَافْرُجْ عَنَّا فُرْجَةً، نَرَى مِنْهَا السَّمَاءَ قَالَ: فَفُرِجَ عَنْهُمْ) صحيح البخاري

ترجمه:- د هغه دری کسانو څخه چې په غار کې بند پاتې وو يو شخص وويل: زما مور او پلار چې زيات کمزوري وو او زه ووتلم رمه مې پيوله ، کله به چې زه راغلم شيدی به مې ولوشلی او شيدی به مې مور او پلار ته راوړی او هغوی به وڅښلی بيابه مې پاتې شيدی خپلې ماشومی ته ورکړی بيا به مې نوری خپلې کورنۍ او ښځې ته د څښلو لپاره ورکړی، په يوه شپه کې بند پاتې شوم نو زه چې راغلم هغه دواړه (مور اوپلار) ويده شوي وو، دا مې بده وګڼله چې هغوی دواړه را پاڅوم او زما ماشومې چغې وهلی زما په پښو کې، دا زما او ددوی حالت وو، ترڅو چې صبا راوختلو . ای الله ! که ته پوهيږې چې دا کار ما ستا درضا لپاره کړی وي دا تيږه زمونږ څخه دومره لری کړه چې مونږ اسمان ووينو . راوي وايې چې د هغوی څخه تيږه لری شوه.

د مور او پلار د حقوقو ادا کولو صورتونه :

پر مونږ لازم دي د مور او پلار د حقوقو په ادا کولو کې کوښښ وکړو ، ترڅو الله تعالی زمونږ څخه راضي شي، د او لاد لپاره د مور او پلار ژوند يو الهي نعمت دی او که د چا مور او پلار دواړه يا يوله دوی د ده په ژوند وفات شوي وي بايد د هغوی په حق کې ډيرې زياتې د ښنې دعاوې وکړي .

الله جل جلاله د مور او پلار حقوق پر مونږ فرض کړي دي.

امام احمد بن حنبل فرمايي: د مور او پلار سره نيکي کول ګناهونه رژوي.[نضرة النعيم]

امام ابوالليث سمرقندي رحمه الله فرمايي: د مور او پلار له حقوق څخه دا دي چې که چيرې هغوی وږي وي، هغوی ته بايد ډوډۍ ورکړل شي او که چيرې هغوی جامو ته اړتيا ولري هغوی ته بايد جامې ورکړل شي. د مور او پلار له حقوقو څخه د هغوی سره نيکه رويه کول دي، د مور او پلار حق داهم دی چې د هغوی خدمت وشي، د هغوی

خبره واوریدل شي او دهغوی خبره باید عملي شي په دې شرط چې په هغه کار کې گناه نه وي، د هغوی سره په نرمه لهجه خبرې کول دي، هغوی ته په نوم باندې آواز نه دی په کار ، په لاره کې د هغوی څخه دمخکې تلل نه دي په کار ، هغوی ته دمغفرت دعاء باید وشي.

[تنبیه الغافلین]

د مور او پلار حقوق او خدمت له امله اویس قرني رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم زیارت څخه پاتې شو او د صحابي توب له فضیلت څخه بې برخې شو سره ددې چې صحابي توب په اسلام کې تر ټولو لویه درجه ده، بیا هم ددې عذر په بناء پیغمبرعلیه السلام د هغه صفت وکړ او په حق یې کې داسې وفرمایل: ( إن من خير التابعين أويس القرني). مسند أحمد

ترجمه:- بیشکه اویس قرني رضي الله عنه د غوره تابعینو له جملې څخه دی.

د مور او پلار حقوق ځینې صورتونه یې په لاندې توگه دي:

د مور او پلار حقوق دادي چې ورسره نیکي وشي او ورته هر ډول ازار او آذیت څخه ځان وساتل شي، د مور او پلار له حقوقو څخه دا هم دي چې د هغوی خبرې او هدایات پرځای شي او خبرو ته یې غوږ ونیول شي، د مور او پلار سره نیکي کول او د هغوی درناوی کول ولو که کافر هم وي، د مور او پلار سره په روزمره کارونو کې مرسته کول.

د مور او پلار سره مینه او محبت ساتل او د مور او پلار دخپلوانو او دوستانو احترام کول او ورسره نیکي کول، دمور او پلار حاجتونه او اړتیاوې پوره کول، د مور او پلار په مخکې په ټیټ آواز خبرې کول او د هغوی په مخکې د بې ادبۍ څخه ځان ساتل، د مور او پلار خبروته په خپلو خبرو ترجیح ورکول ، د مور او پلار خدمت کول، دمور او پلار له حقوقو څخه دا هم دي چې د هغوی په مخکې (اف) ویل هم حرام دي، دمور او پلار ته د هغوی له وفات څخه وروسته د مغفرت دعاگانې غوښتل.

د مور او پلار د حقوقو پرځای کولو گټې:

د مور او پلار سره نیکي کول لاندې گټې لري:

د مور او پلار حقوق پرځای کول داسلام له غوره عبادت څخه دي. اودوی سره نیکي کول د دعا د قبلیدو لامل کیږي د دوی سره نیکي د زامنو لپاره د نیکمرغۍ سبب گرځي.

د جنت د داخلیدو لامل کیږي، لکه چې په حدیث شریف کې رازي:(عن ابی هریره رضی الله عنه سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول : (الوَالِدُ أَوْسَطُ أَبْوَابِ الجَنَّةِ، فَإِنْ شِئْتَ فَأَضِعْ ذَلِكَ البَابَ أَوْ احْفَظْهُ) سنن الترمذي

ترجمه:- د ابو هریه رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل: پلار د جنت منځنۍ دروازه ده که دی خوښه شوه ضائع یې کړه او که د خوښه شوه حفاظت یې وکړه.

په عمر کې د زیاتوالي او په مال کې د برکت لامل کیږي .نیکي کول د مور او پلار سره الله تعالی ته د نژدیوالي لوی لامل دی .د الله رضا د مور او پلار په رضا کې نغښتې ده .د مور او پلار لپاره د عاجزۍ او تواضع وزرونه ښکته کول د شرعي دندو څخه گڼل کیږي .د مور او پلار په حق کې یوه نیکي داهم ده چې په ژوندانه او له مرگه وروسته د دوی په هکله د ښنې او خیر دعاوې وشي.

د مور او پلار د نافرمانۍ دنیوي او اخروي زیانونه:

۱- د مور او پلار نافرماني د کبیره گناهونو له جملې څخه شمیرل شوی ده، ځکه خو الله تعالی د مور او پلار حقوق د خپلو حقوقو سره یوځای بیان کړي دي او د مور او پلار نافرماني یې د شرک سره پیوسته بیان کړی ده.په حدیث

شرييف کې رازي: (أَلا أُنَبِّئُكُمْ بِأَكبَرِ الْكَبائِرِ ثَلاثًا، قَالُوا: بَلى يا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: الإِشْراكُ بِاللهِ وَعُقوقُ الْوالِدَيْنِ).صحيح البخاري

ترجمه:- آيا تاسې خبر نه کړم ترټولو پر لويه گناه باندې ؟ دا خبره يې درې ځله وکړه. صحابه وو وويل: هو! يارسول الله . پيغمبر عليه السلام وفرمايل: د الله تعالى سره شريک نيول، دمور او پلار نافرماني کول.

په يو بل حديث شريف کې رازي: (سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم عَنِ الْكَبائِرِ قَالَ: الإِشْراكُ بِاللهِ، وَعُقوقُ الْوالِدَيْنِ، وَقَتْلُ النَّفْسِ، وَشَهادَةُ الزّورِ) صحيح البخاري

ترجمه:- د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وشوه د کبيره گناهونو په اړه، پيغمبر عليه السلام وفرمايل: کبيره گناه د الله تعالى سره شريک جوړول، د مور او پلار نافرماني کول، د( بې گناه) نفس وژل او په درواغو شاهدي ورکول.

امام ذهبي رحمه الله فرمايي: ( الله تعالى د مور او پلار سره بده رويه کول او د هغوی سره نيکی نه کول د شرک سره تړلي ذکر کړي دي).[ الکبائر] يعنی پس له شرک څخه د مور او پلار نافرماني لويه گناه ده.

الله تعالى د نورو گناهونو سزا په دنيا کې دومره په عاجله توگه نه ورکوي لکه څرنگه چې د مور او پلار د نافرمانۍ سزا ژر ورکوي.

د پلارڅخه نافرماني هرهغه کارچې پلار ته ورڅخه تکليف رسيږي ولو که د هغه کار کول واجب هم نه وي. د مور او پلار طاعت په هغه څه کې واجب دی چې گناه په کې نه وي او د مور او پلار څخه مخالفت دهغوی نافرماني حسابيږي.[شرح النووی]

امام ابن حجر مکي وايي: دمور او پلار نافرماني داسې ده چې مور او يا پلار ته داسې تکليف رسول چې که دغسې تکليف بل چاته ورسيږي د صغيره گناه بلل کيږي چې دا تکليف مور او پلار ته رسول کبيره گناه گڼل کيږي.[ الزواجر] ځوک چې د مور او پلار څخه نافرمانه وي دجنت بوی به ونه مومي.

۲- د مور او پلار نافرماني په دنيا کې د عذاب سبب گرځي.

د مور او پلار نافرماني لوی جرم دی چې الله تعالى د آخرت څخه مخکې په دنيا کې داسې کسانو سزا ورکوي، لکه چې په حديث شريف کې راغلي دي: (كُلُّ الذُّنُوبِ يُؤَخِّرُ اللَّهُ مَا شَاءَ مِنْهَا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ إِلَّا عُقُوقَ الْوَالِدَيْنِ فَإِنَّ اللَّهَ تَعَالَى يُعَجِّلُهُ لِصَاحِبِهِ فِي الْحَيَاةِ قَبْلَ الْمَمَاتِ). الطبراني، المستدرك للحاكم

ترجمه:- د ټولو گناهونو سزا وروسته کوي الله تعالى هر څومره چې يې خوښه شي د قيامت تر ورځې پورې؛ پرته د مور او پلار له نافرمانۍ څخه، بيشکه الله تعالى په عاجله توگه ورکوي سزا ددې گناه د هغې مرتکب ته په ژوند کې مخکې د هغه له مرگ څخه.

همدا راز په دنيا کې د مور او پلار نافرمانه شخص لپاره تعزيري سزا شته دی . دا په معنا څوک چې مور او پلار ووهي او يا ورته کنځل وکړي د داسې شخص لپاره تعزير دی. د مور او پلار نافرمانه شخص لپاره د هغه دجرم په اندازه تعزير ورکول کيږي.لکه وهل، بندي کول، رټل او سرزنش کول او داسې نور.

۳-د مور او پلار نافرماني د الله تعالى د قهر سبب گرځي.

د مور او پلار نافرماني د الله تعالى د غضب لامل گرځي لکه چې په حديث شريف کې رازي : (عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: رِضَا الرَّبِّ فِي رِضَا الْوَالِدِ وَسَخِطُ الرَّبِّ فِي سَخَطِ الْوَالِدِ). المستدرك للحاكم

ترجمه:- د الله رضا د پلار په رضا کې ده او د الله تعالی قهر د پلار په قهر پورې تړلی دی.
د بني اسرائيلو هغه ځوان جريج ته الله تعالی په دنيا کې سزا ورکړه چې د عبادت له امله يې د مور آواز ته جواب ورنکړ.
عن أَبِي هُرَيْرَةَ- رضي الله عنه - قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم : نَادَتِ امْرَأَةٌ ابْنَهَا وَهُوَ فِي صَوْمَعَةٍ (صَوْمَعَتِهِ) قَالَتْ يَا جُرَيْجُ فَقَالَ اللَّهُمَّ أُمِّي وَصَلَاتِي قَالَتْ يَا جُرَيْجُ قَالَ اللَّهُمَّ أُمِّي وَصَلَاتِي قَالَتْ يَا جُرَيْجُ قَالَ اللَّهُمَّ أُمِّي وَصَلَاتِي قَالَتِ اللَّهُمَّ لَا يَمُوتُ جُرَيْجٌ حَتَّى يَنْظُرَ فِي وَجْهِ الْمَيَامِيسِ وَكَانَتْ تَأْوِي إِلَى صَوْمَعَتِهِ رَاعِيَةٌ تَرْعَى الْغَنَمَ فَوَلَدَتْ فَقِيلَ لَهَا مِمَّنْ هَذَا الْوَلَدُ قَالَتْ مِنْ جُرَيْجٍ نَزَلَ مِنْ صَوْمَعَتِهِ قَالَ جُرَيْجٌ أَيْنَ هَذِهِ الَّتِي تَزْعُمُ أَنَّ وَلَدَهَا لِي قَالَ يَا بَابُوسُ مَنْ أَبُوكَ قَالَ رَاعِي الْغَنَمِ). صحيح البخاري
ترجمه:- د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: يوې ښځې خپل زوی ته آواز وکړ په داسې حال کې چې هغه زوی يې په خپله عبادت ځای کې ؤ ورته يې وويل: ای جريجه! زوی يې وويل( له ځان سره يي وويل): ای الله ! يوخوا مې مور ده او بل خوا مې لمونځ دی.بيايې مور آواز وکړ ای جريجه! هغه زوی يې وويل: ای الله ! يوه خوا مې مور ده او بل پلو مې لمونځ دی. بيا مور ورته آواز وکړ ای جريجه! هغه د ځان سره وويل: ای زما ربه! يو خوا زما مور ده او بل خوا ته مې لمونځ دی (څه وکړم). بيا يې مور وويل: ای الله ! جريج تر هغې پورې مه وژنه؛ ترڅو پورې چې دفاجرو ښځو مخ ته ونه گوري. يو شپون چې دده عبادتگاه ته راتللوچې رمې يې پيوله ،(هغه يوی ښځې سره يې زنا وکړه) او د هغه ښځې ماشوم پيدا شو. چا ورته وويل: دا ماشوم له چا نه پيداشوی دی؟. هغه ښځې ورته وويل: د جريج څخه پيدا شوی دی جريج له عبادتگاه څخه را کوز شو جريج وويل: هغه ښځه څه شوه چې وا يي چې دا ماشوم د جريج څخه پيدا شوی دی. جريج وويل: ای ماشومه ! ستا پلار څوک دی؟ هغه ماشوم وويل: زما پلار يو شپون دی.
ددې حديث څخه په ډاگه معلوميږي څوک چې په نفلي لمانځه ولاړ وي بايد لمونځ قطع او د مورد آواز ته ځوا ب ووايي.
بله دا چې د موربددعائي د اولاد په هکله مستجاب ده اوڅوک چې د مورنافرماني کوي په دنياکې ورته سزا هم ورکول کيږي.
۴- د مور او پلار نافرماني د بدې خاتمې سبب کيږي.
د مور او پلار نافرماني د بدې خاتمې لامل گرځي، چې د عمر په آخر کې د روح د وتلو پر وخت د مور او پلار نافرمانه شخص د شهادت کلمې په ويلو باندې قادر نه وي لکه چې په حديث کې رازي:(عن عبد الله ابن أبى أوفى. قال: كنا عند رسول الله - صلى الله عليه وسلم - ، فأتاه آت، فقال: شاب يجود بنفسه، فقيل له: قل لا إله إلا الله، فلم يستطع، فقال: «أَكَانَ يُصَلِّي؟». قال: نعم فنهض رسول الله - صلى الله عليه وسلم - ، ونهضنا معه، [فدخل على الشاب] فقال له: «قُلْ لاَ إِلَهَ إلاَّ اللهُ» قال: لا أستطيعُ، قال: «لِمَ؟» قيل: كان يعق والدته، فقال: «أَحَيَّةٌ وَالِدتُهُ؟» قالوا: نعم، فقال: «ادْعُوهَا»، فجاءت، فقال: «هَذَا ابْنُكِ؟» قالت: نعم، فقال لها: «أَرَأَيْتِ لَوْ أَجَّجْتُ نَارًا ضَخْمَةً، فَقِيلَ لَكِ: إِنْ شَفَعْتَ لَهُ خَلَّيْنَا عَنْهُ، وَإِلاَّ أَحْرَقْنَاهُ بِهَذِهِ النَّارِ أَكُنْتِ تَشْفَعِينَ لَهُ؟» قالت: يا رسول الله إذاً أشفع. قال: «أَشْهِدِي الله، وَأَشْهِدِينِى أَنَّكِ قَدْ رَضِيتِ عَنْهُ»، فقالت: اللهم إنى أشهدك، وأشهد رسولك أنى قد رضيت عن ابنى. فقا له رسول الله - صلى الله عليه وسلم - : «يا غُلامُ: قُل لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وحدهَ لاَ شَرِيكَ لَهُ، وأَشهدُ أَنَّ محمّدًا عبده ورَسوله» فقالها، فقال رسول الله - صلى الله عليه وسلم - : «الْحَمْدُ للهِ الَّذِى أَنْقَذَهُ بِى مِنَ النَّارِ) .شعب الايمان للبيهقي
ترجمه:- د عبدالله ابن ابی اوفا رضي الله عنه څخه روايت دی چې مونږ د رسول الله صلی الله سره ناست وو، يو کس راغی داسې يې وويل: يو ځوان دی چې سلگی وهي . چا ورته وويل: ( لااله الاالله کلمه ووايه. وه يې نه شوه ويله. هغه ورته وويل: آيا لمونځ کولو؟ وه يې ويل بلی. پاڅيده رسول الله صلی الله عليه وسلم او مونږ هم ورسره پاڅيدو. پيغمبرعليه السلام هغه ځوان خوا ته ورغی. پيغمبرعليه السلام ورته وويل: د (لااله الا الله ) کلمه ووايه. هغه وويل: نه يې

شم ویلی. پیغمبرعلیه السلام ورته وویل: ولی یې نشی ویلی؟ چا وویل دا ځوان دمور څخه نافرماني کوله. بیغمبرعلیه السلام وفرمایل: آیا دده مور ژوندی ده؟ خلکو وویل: بلی ژوندی ده.پیغمبرعلیه السلام وفرمایل: مور یې راوغواړئ.مور یې راغله .پیغمبرعلیه السلام ورته وویل:آیا دا ستا زوی دی.؟ هغه ښځې وویل : بلی زما زوی دی.پیغمبرعلیه السلام ورته وفرمایل: که چیرې زه اور بل کړم لوی او تا ته وویل شي: که چیرې ته ددې سفارش کوی مونږ به یې پریږدو او که سفارش یې نه کوی مونږ یې په دې اور باندې سیزو آیا په دې حالت کې ته یې سفارش کوی؟ هغه ښځې وویل: یارسول الله صلی الله علیه وسلم په داسې وخت کې یې زه سفارش کوم. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: الله تعالی او ما شاهد وگرځوه چې بیشکه ته له دې ځوان څخه راضي شوی. هغه ښځې وویل: ای الله ! زه تا شاهد گرځوم او ستا رسول شاهد گرځوم چې زه د خپل زوی څخه راضي یم.
بیا پیغمبر علیه السلام وفرمایل: ای ځوانه ووایه د(لاَ إِلَهَ إلاَّ اللهُ وحدهَ لاَ شَریكَ لَهُ، وأَشهدُ أَنَّ محمّدًا عبده ورَسوله) کلمه.
پیغمبر علیه السلام وفرمایل: ثنا اوصفت الله تعالی لره ده هغه ذات چې دا ځوان ته یې نجات ورکړ له جنهم څخه.
۵- د مور او پلار نافرماني د رزق او روزی د تنگی سبب گرځي.
٦- په آخرت کې به الله تعالی نافرمانه شخص ته د رحمت په سترگه ونه گوري.
د مور او پلار نافرماني کول کبیره گناه ده او په دنیا او آخرت کې زیات زیانونه لري.
د مور او پلار په نافرمانه شخص ته به الله تعالی د قیامت په ورځ د رحمت په سترگه ونه گوري او جنت ته به داخل نشي.
په حدیث شریف کې رازي: (عبد الله بن عمر - رضي الله عنهما - قال: قال رسولُ الله -صلی الله علیه وسلم-: ثلاثة لا ینظر الله إلیهم یوم القیامة : العاقُّ لوالدیه ، والمرأة المترجِّلة والدیوث. وثلاثة لا یدخلون الجنة : العاق لوالدیه ، و مدمن الخمر ، والمنان بما أعطی).سنن النسائي.
ترجمه:- د عبدالله ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: دری کسان دي چې وبه نه گوري الله تعالی دوی ته د آخرت په ورځ د مور او پلار نافرمانه شخص، دسړو سره مشابهت کوونکې ښځه او بل دیوث سړی. دری کسان دي چې جنت ته به داخل نشي د مور او پلار نافرمانه شخص، د شرابو څښونکی او احسان کوونکی په هغه څه چې په خیرات کې یې ورکړي.

۷- رسول الله صلی الله علیه وسلم د مور او پلار نافرمانه شخص ته بد دعائي کړی ده. په یو حدیث شریف کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مور او پلار نافرمانه شخص ته بد دعائي کړي ده.
(عن أَبي هریرة رضي الله عنه عن النبي صلی الله علیه وسلم قال : رَغِمَ أَنفُ، ثُمَّ رَغِمَ أَنفُ ، ثُمَّ رَغِمَ أَنفُ. قِیلَ : مَن یارَسُولَ اللهِ ؟ قَالَ : مَن أَدرکَ أَبَوَیهِ عِندَ الکِبرَ أَحَدُهُمَا أَو کِلَیهِمَا فَلَم یدخُلِ الجَنَّةَ).رواه مسلم
ترجمه:- له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په خاورو دې ککړه وي پزه (کنایه ده له هلاکت څخه)، بیا دې په خاورو ککړه وي پزه، بیا دې په خاورو ککړه وي پزه، چا وویل: د چا پزه دې په خاورو سپیره او ککړه وي؟ پیغمبر علیه اسلام وفرمایل : هغه څوك چې مور او پلار یې دواړه یا یوله دوی څخه د بوډا توب په حالت کې ومومي او د دوی د نه خدمت په وجه جنت ته داخل نشي.
په یو بل حدیث شریف کې رازي: (إن الله حرم ثلاثا ونهی عن ثلاث حرم عقوق الوالد ووأد البنات ولا وهات ونهی عن ثلاث قیل وقال وکثرة السؤال وإضاعة المال). صحیح مسلم –
ترجمه:- بیشکه الله تعالی دری شیان حرام کړي دي او له دری شیانو یې نهی فرمایلی ده.د مور او پلار نافرماني یې حرامه کړی ده، د ژوندی لوڼو خښول یې حرام کړي دي او حرام کړی یې دی منع کول دهغه څه چې کول یې لازم

دي او حرام کړي یې دي طلب د هغه څه چې تاسو ته یې اخیستل روا نه دي. او له درې شیانو یې نهی فرمایلی ده قیل او قال څخه (بې فائدې زیاتې خبرې کول او دخلکو قیصې کول) او د زیات سوال کولو څخه او دمال له ضائع کولو څخه.

د مور او پلار د نافرمانۍ صورتونه:

د مور او پلار د نافرمانۍ په لیکلو کې او ویلو کې نشي منحصر کیدلی، ولی غواړو دخلکو دفهم لپاره غواړود هغه نافرمانیو ځینې بیلګې ذکر کړو چې په ټولنه کې شتون لري:

په خبرو، عمل او عادت سره د مور او پلار ژړول او خپه کول، د مور او پلار وهل، رټل او سرزنش کول او ورته تیزې خبرې کول او یا ورته قهریدل، د مور او پلار دامر او حکم په مقابل کې نارضایتي ښکاره کول او یا ورته منفي ځواب ورکول، د مور او پلار په مخکې قهر کول او یا ورته تندی تریو نیول، مور او پلار ته په قهر سره کتل، مور او پلار ته امر کول او په کوم کار یې ګمارل، د مور په پخلي او کار باندې انتقاد کول، د مور او پلار مخکې بې ادبي کول، د هغوی سره په کارونو کې مرسته نه کول، د هغوی خبرو ته توجه نه کول یا دهغوی خبرې قطع کول، په خبرو کې له هغوی سره جګړه کول او یا ورته خبره ورګرځول، د موراو پلار خبرې بابیزه ګڼل، د مور او پلار له اجازته پرته مباح سفر کول، هغه وخت چې مور او پلار ورته ضرورت لري، خلکو ته د مور او پلار بدي بیانول، مور او پلار کنځل او ورباندې لعنت ویل.

اقول قولی هذا استغفروالله لی ولکم ولسائر المسلمین واستغفروه انه هوالغفور الرحیم